# د چاپېریال ستونزې

## د چاپېریال ککړتیا وې (Miljøforurensning)

په چاپېریال کې ککړتیا له نا غوښتل شوي بدلون څخه عبارت ده چې له امله یې د چاپېریال کیفیت ټیټیږي. ککړتیا ښایي چې طبیعي اوسي یعنې منشا یې د طبیعت څخه وي، لکه: طوفانونه چې د خاورو او دوړو د پاڅېدو لامل ګرځی.



Adobe Stock :Foto

یا اور غورځوونکي (أتش فشان)چې ډېر لوګي اومختلف غازونه تولیدوي. ولې نن هغه ککړتیاوې چې د هغوی منشا انساني فعالیتونه دي د ژوند د چاپېریال سلامتیا او ژوند یو موجوداتو ته ډېر خطرونه لري. دا ډول ککړتیاوې د مصنوعي ککړتیاوو په نامه یادېږي،څکه چې د هغوی منشا په طبعیت کې نشته، لکه: د هوا ککړتیا، د فابریکو او موټرو د لوګي له امله د هوا، اوبو او خاورې ککړتیاوې د هغو ککړتیاوو له ډولونوڅخه دي چې د چاپېریال ستونزې  منځته راوړي. اوس دهوا ککړتیاتوضیح کوو.

## د هوا ککړتیا (luftforurensning)

که چېرې یو یاڅو ککړوونکي توکي د ټاکلي غلظت سره د یوې مودې لپاره په هوا کې شتون ولري، هغه ډول چې انسان، نبات، حیوان او توکو ته زیان ورسوي او د ژوند د چاپېریال د کیفیت دټیټېدو لامل وګرځي، هغې هوا ته ککړه هوا ویل کېږي. د هوا په ککړونکي توکو کې غازونه، د فابریکو لوګي، موټرونه، ماشینونه، راز راز بټۍ ګانې ،د بخارۍ دود، د ډبرو سکاره، تیل، لرګي لوګي، طبعیي غاز، خاورې، دوړې او نور شامل دي.



Foto: Pixabay

لوګي او غازونه چې توليديږي له کاربن ډای اکسايد، کاربن مونو اکسايد، سلفر ډای اوکسايد، د نايتروجن اکسايد او دځينی هايدروکاربونو نوڅخه عبارت دي چې هر يو په يو ډول د هوا د ککړتيا لامل ګرځي. که چېرې د دې غازونو مقدار په هوا کې ډېر شي پر حيواناتو او نباتاتو باندې منفي اغېزه کوي او د انسانانو د روغتيا لپاره زيانمن او خطرناکه وي. د بېلګې په توګه که چېرې د سلفر ډای اوکسايد غاز چې د ډبرو د سکرو د سوځېدلو څخه توليد ېږي، تنفس شي د سترګو، پزې او غوږونو د تخريش لامل او ان د مړينې لامل ګرځي. سلفر ډای اوکسايد، نباتاتو ته هم زيان لري. سلفر ډای اوکسايد د پاڼې د حجرو د سوريو له لارې پاڼې ته ننوزي او د لندبل په شتون د اوبو سره تعامل کوي او د ګوګړو تيزابجوړوی. دګوګړتېزاب د پاڼې په حجرو د مړاوي کېدو او ان د هغو د له منځه تللو لامل ګرځي او د هغو پر مخ ژېړ رنګه داغونه (لکې ) توليد وي. همدارنګه د ګوګړو تيزاب تعميراتو يا کورونو او ځمکې پر مخ د فلزاتو د فرسودګۍ لامل ګرځي. کاربن ډای اوکسايد د هوا يو عمده ککړونکې دی چې يوه برخه يې د نباتاتو په وسيله جذب او د هغه څخه د خپلو غذايي توکو په جوړولو کې کار اخلي او بله برخه يې د ځمکې په شاو خوا د کاربن ډای اوکسايد يوه طبقه جوړوي. کله چې د لمر تودوخه ځمکې ته رسېږي، يوه اندازه يې د ځمکې په وسيله جذب او نور يې بېرته منعکس کېږي، ولې د کاربن ډای اوکسايد طبقه نوموړې تودوخه جذبوي او نه يې پر يږدي چې دځکې له سطحې څخه وتښتي.

## Kilder:

Miljøproblemer. Hentet fra: Ministry of education, of Afghanistan